
لنډه کیسه
Ketabton.com
ملک
لیکوال: واجد منګل

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ملک

**ليکوال: واجد « منګل »**

**ترتيب: افغان کتابتون**

(c) ketabton.com: The Digital Library



# پیل

د کړکۍ له شیشې څخه د لمر وړانګو د ښځې ژېړ مخ لا ژېړ کړی وو، په بدن کې یې د وینې څرک نه مالومیده، سیروم ور ته راځوړند وو، هرو څو ثانیو کې یې ځاځکي ځاځکي وینه اخیسته.

ور سره ناست دولس کلن ماشوم، د ښځې اوږې ته خپل لاس ور وغځاوه، د ښځې ګوتې اوخوریدې، ماشوم وژړل، له کوچنیو سترګو یې غټې اوښکې تویې شوې. په غریو کې یې له خولې د «ادې» لفظ را ووت.

سړی ور پورته شو، ماشوم یې له مټه ونیو، شاته یې کش کړ.

ماشوم ژړل.

سړی وویل:

- پرېږده چې مرداره شي.

د ښځې له سترګو خړه پرده اوچته شوه، ویې غړولې، سیکه نه وه ور پاتې، بېرته یې بندې کړې...

سړي سوړ اسویلی وکړ، په سپینه ږیره یې لاس تېر کړ، له مېزه یې سپینه خولۍ ور واخیسته او پاڅېد.

د کوټې ور وټکېد، کس را ننوت، ډاکټر وو، سپینه چپنه یې په تن وه.

سړی بېرته په خپل ځای کې کېناست.

ډاکټر د ښځې مخې ته څو دقیقې ولاړ وو، د ښځې نفس او فشار یې ولید. ښځې د یوې میاشتې راهسې د کم خـــوني ناروغی لرله. دا ځل روغـــتون ته د هغې راتګ یواځې کم

(c) ketabton.com: The Digital Library



خوني نه وه، د سر ضربه هم ورسره ملګرې وه، تندی یې پرې (ځیرې) وو.

وروسته ډاکټر سري ته مخ ور تاو کړ، په خوشحالۍ یې وویل:

- ملک صیب، مېرمن مو په ښه کېدو ده. شکر چې زموږ د همکار د وینې ګروپ ور سره سمون اوخوړ، کني اوس به ژوندی نه وه پاتې.

سړي ترخه موسکا وکړه، د منني لپاره یې ورته لاسونه په سینه کېښودل:

- ښه شوه چې وه ژغورل شوه. او له تاسې هم ډېره مننه!

ماشوم سړي ته برګ برګ کتل.

وروسته سړي وتوخل، رنګ یې سور شو، له ځایه پاځېد، د باندې ووت.

د ماشوم په مخ د اوښکو چاپونه وو، سپین غومبري یې د اوښکو له امله خیرن ښکاریدل.

ماشوم سلګۍ کولې.

ډاکټر ور وکتل:

- مه ژاړه زویه، مور دې ښه کیږي.

ماشوم پوزه کش کړه، له اوښکو ډکې سترګې یې له مور سره نیږدې ولاړ ډاکټر ته ونیولې، په ژړا کې یې وویل:

- ملک چا ته وایي؟

- هغه کس ته، چې د خلکو ستونزې حل کوي.

- نو زما پلار، زما د مور ستونزه ولې نه شي حل کولی؟، هره ورځ یې زما مور له ویښتو را نیولې وي او وهي یې.

ډاکټر حیران ورته وکتل.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ماشوم د ژبې د بندیدو له امله د «پلوشې» نوم سم نه شو اخیستلی، په سختۍ یې وویل:

- که نن د پل، پلوسې دوی بابو نه وای خبره شوې، پلار به مې ادې مړه کړې وای.

ډاکټر په لاس کې نیولې پیچکاری د کټ په ژۍ (څوکه) کېښوده، وروسته ماشوم ته ور نیږدې شو، په مخ یې لاسونه ور تېر کړل، اوښکې یې ور پاکې کړې، ویې ویل:

- ملک صیب ولې خپله ښځه وهې؟

ماشوم زګیروی وکړ:

- وایي، بله ښځه کوم خو مور مې...

له دروازې سره ولاړ سړي په تېزه ستونی تازه کړ، ماشوم ژر ور وکتل، سړي (د ماشوم پلار) وو، ماشوم چوپ کېناست.

ډاکټر د ماشوم له څنګه لیرې ودرېد، سړي ته یې په ځیر ځیر وکتل. یوه شیبه یې سترګې پکې نیولې وې، وروسته یې له څنګه تېر او د باندې ووت.

# پای

(c) ketabton.com: The Digital Library



**يادونه!**

**خپل نظرونه مو په لاندې ادرسونو را سره شريک کړئ.**

فيسبوک: Wajid Mangal

واټساپ: +4368864664143

ايميل: Wajidmangal2003@gmail.com

ډېره مننه له افتخارالله افتخار څخه!

د کره کتنې په پار مې کيسه ور وليږله، لومړی کس وو چې راته يې وويل؛ کيسه دې ډېره ښه ليکلې.

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**